مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

٢٠٢٢/٠٣/٢۴

# «هر انسان د ښوونې او روزنې حق لري...»

## لومړۍ برخه

**له پاچا نه به څوک وپوښتي حيرانه**
**د مکتب د ټالی زنګ ولي ولاړ دی؟**

(حنيف حيران)



د بشري حقونو د نړيوالي اعلاميې د شپږويشتمې مادې په لومړي بند کې راغلي دي چې:

**«هر انسان د ښوونې او روزنې حق لري، ښوونه او روزنه، په تېره بيا لومړنۍ او بنسټيزې زدکړې بايد وړيا او اجباري وي، د ځانګـيـزې (حرفوي) ښوونې شونتياوې (امکانات) بايد د ټولو پر مخ پرانستې وي، د پوهنتونونو او نورو لوړو زدکړو مؤسسو ور بايد د هر چا پرمخ پرانستی وي، چې د خپل استعداد او وس په اندازه له هغو څخه ګټه واخيستلی شي.»**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د نجونو د تعليم مخه نيول د ځو نسلونو د بدمرغی د غميزې پيلامه ده، که د دې مخه ونه نيول شي، اوسنی او ځو نور نسلونه دې برباد او د بدمرغيو کندو ته لويدلي وګڼئ.

د نجونو د تعليم په برخه کې نويو واکدارانو پر خپلو کړو ژمنو وفا ونشوای کړی او د «امر ثاني» په نامه يې تر يوې نامعلومې نېټې پورې د افغانستان د نيماي بدن د تعليم مخه ډب کړه.

د نويو واکدارانو له راتګ سره سم د نجونو د تعليم مخه ونيول شوه، خو کوردننه او له هېواده بهر له ګڼو غبرګونونو سره مخ شوه. د افغانستان د خوارو او ورو خلکو غږ هسې هم څوک نه اوري، خو نړېوالي ټولني له هماغه پيل نه نويو واکدارانو ته وويل چې نجونو ته بايد په سملاسي ډول ښوونځيو ته د تګ اجازه ورکړل شي. د نويو واکدارانو د واک په پيل کې د ښښي نړيوال سازمان غوښتنه وکړه چې نجونو ته دې د ښوونځيو دروازې پرانستل شي. هماغه وخت په دې هکله د بي بي سي پښتو ويبپاڼي په يوه رپوټ کې داسې راغلي وو:

«د ښښي نړيوال سازمان غوښتنه کړې چې افغانستان کې دې نجونو ته په سملاسي توګه ښوونځيو ته د تګ اجازه ورکړل شي.

ياد سازمان وايي، له ګڼ شمېر نجونو زدکوونکو او ښوونکو سره د مرکو پر بنسټ يې خپل تازه رپوټ چمتو کړی.

په رپوټ کې راغلي چې ګڼې نجوني او ښوونکي له تاوتريخوالي سره مخ دي او ان د طالبانو لخوا ورته ګواښونه کېږي.

طالبانو پر افغانستان له بشپړې ولکې وروسته د تېرې سپتمبر مياشتي پر ۱۷مه نېټه هلکانو لپاره ښوونځي بېرته پرانيستل، خو د منځنيو ښوونځيو نجوني يې په کورونو کېنولي.

دې ډلې د ښښي نړيوال سازمان دې وروستي رپوټ ته لا غبرګون نه دی ښودلی، خو چارواکي يې وايي، نجوني بايد 'د مناسب درسي چاپېريال تر برابرېدو' کورونو کې پاتې شي.

خو د ښښي نړيوال سازمان وايي، له زدکوونکو، ښوونکو او د ښوونځيو له مديرانو سره يې شل مرکې کړې دي او ورته مالومه شوې چې د طالبانو لخوا ګواښونه او ځورونه د دې لامل شوې چې ان لومړنيو ښوونځيو کې د شاګردانو حاضرې، په ځانګړې توګه د نجونو ورتګ کم شوی.

ياد سازمان مني چې په کابل، بلخ، کندوز او سرپل ولايتونو کې ی شمېر نجوني منځنيو ښوونځيو ته ستنې شوې دي، خو ټينګار کوي چې د ټول هېواد نجوني بايد ادا حق ولري...»

په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه دباندې تر ډېرو انتقادونو او ورانديزونو وروسته د نويو واکدارانو لوړپوړو چاروکو ژمنه وکړه چې په نوی کال کې به د نجونو پرمخ د ښوونځيو دروازې پرانستل شي.

نويو واکدارانو د ۲۰۲۲ ام کال د جنورۍ پر شپاړسه ويلي وو چې د نوي هـ ش کال د حمل په پيل کې د نجونو ټول ښونځي پرانځي.

بي بي سي پښتو:

«طالبان;د نجونو ټول ښونځي په نوي لمريز کال کې پرانيزو.»

تاند:

«د نجونو ترل شوي ښوونځي به په نوي لمريز کال کې بېرته پرانيستل شي.»

د تاند د ياد رپوټ په يوه برخه کې داسې راغلي و:

«تاند:( يکشنبه، د جدي شپږ ويشتمه) د طالبانو د حکومت وياند ذبيح الله مجاهد هيله مندي ښودلې، چې په نوي لمريز کال کې به په ټول هېواد کې د نجونو ښوونځي بېرته پرانيستلای شي.

هغه په يوه تازه مرکه کې وويل، چې دوی د نجونو او هلکانو د ښوونځيو او جلا زده کړو په ترسره کيدو ټينګار لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

مجاهد په یو شمېر ولایتونو کې اوس هم د ټولو ښځینه ښوونځیو د فعالیت د دوام خبر ورکړی، خو نه یې

دي ویلي چې د پرانیستل شویو او تړل شویو ښوونځیو د تدریسي ماحول تر منځ څه توپیر موجود دی؟

طالب وياند مخکې د ښځينه ښوونځيو د تړلو اصلي دليل د شرايطو نا برابروالی ګڼلی و.

خلکو بیا په دې اړه پلمي ردولي او ويل، چې د نجونو او هلکانو ښوونځي پخوا هم سره جلا وو.

په وروستيو کې د نجونو د ښوونځيو د بېرته پرانيستل کېدو په اړه پر طالبانو فشارونه زيات شوي.

طالبانو د افغانستان له یو شمېر محدودو ولایتونو پرته نور په ټول هېواد کې نجونو ته له شپږم ټولګي څخه د پورته زده کړو اجازه نه ده ورکړې.»

خو اوس نويو واکدارانو پر کړو وعدو باندې پښې واړولې او نجونې يې ښوونځي ته له تګ راوګرځولې.

ټولنيزه ميډيا کې تر ټولو ډېر او تود خبر همدا دی چې د نجونو پر تعلم بنديز تر يو نامعلوم وخت پورې وغځول شو.
په همدې هکله د بي بي سي پښتو په
یوه ریوټ کې راغلي دي:

«طالبانو له شپږم ټولګي د پورته نجونو پر ښوونځيو بنديز "غځولی دی"
افغانستان کې د طالبانو حکومت چې ژمنه يې کړې وه سر له ننه (وري درېيمه) به په ټول هېواد کې ټولې نجونې ښوونځيو ته پرېږدي، له شپږم ټولګي پورته نجوني ښوونځيو ته بيا هم پرېنښودې.

د باختر دولتي اژانس په رپوټ کې ويل شوي، د نجونو لپاره د متوسطه ښوونځيو دروازو پرانيستلو پرېکړه ځنډول شوې ده.

د باختر اژانس په رپوټ کې د طالبانو پوهنې وزارت له قوله ويل شوي: "د نجونو ټولو هغو ښوونځيو او ليسو ته چې له شپږم ټولګي څخه پورته دي، خبر ورکول کېږي چې دیادو مکاتبو او ليسو درسونه تر امر ثاني پورې ځنډېدلي دي. "

د باختر اژانس رپوټ زياتوي، هر کله چې "له شريعت او افغاني دود سره سمه طرح چمتو شي، بيا به دې تعليمي ادارو ته خبر ورکول کېږي. "»

تاند ويبپاڼې هم له شپږم تر دولسم ټولګي پورې د نجونو د ښونځيو ځنډول خپور کړ، په دې شرحه:

«تاند(چهارشنبه، د حمل ۲ مه) طالبانو نن په ټول افغانستان کې ښوونځي پرانيستل خو په وروستی شېبه کې يې حکم صادر کړ چې تر شپږم ټولګي پورته نجوني ښوونځيو ته نه شي تللی ځکه چې د دوی په وينا د ځای شرايط نه دي برابر او تخنيکي ستونزې شته.
د پوهنې وزارت پر خپله ټويټرپاڼه کښلي:«د نجونو ټولي لیسې به تر بلې خبرتیا پورې بندې وي.»

خو وروسته بيا تاند په نورو رپوټونو کې دا هم ورزيات کړل چې د نجونو د ښونځيو ځنډول د طالبانو په ليکو کې خپلمنځي اختلافات رامنځته کړي دي. په دې هکله د تاند په يو رپوټ کې داسې راغلي دي:

« تاند:(چهارشنبه، د حمل درېيمه) د طالبانو يو شمېر مشهورو تبليغاتي مبلغانو هم له عامه ذهنيت څخه په متاثريدو د نجونو د ښوونځيو د تړلو د دوام په اړه د خپلو مشرانو پرېکړه نقد کړې ده.

د طالبانو د بهرنيو چارو وزارت د اقتصادي همکاريو رييس شفيع اعظم پر خپلې ټويټر پاڼې ليکلي:« که مور خپلو بچيو ته په اسلامي روحيه ديني او عصري زده کړو زمينه وطن کې برابره نه کړو؛ نور به ورته خپلې ښونيزې دروازې خلاصې او زموږ د مقدساتو خلاف به يې وروزي. زرګونو ځوانانو د همدې هدف لپاره سرونه نزرانه کړل چې راتلونکی نسل دلته وروزل شي. ځوان نسل نبايد د اغيارو دروازو ته مجبور شي.»

شفيع اعظم، چې د طالبانو له مشهورو تبليغاتي مبلغانو څخه دی، په يوه بل ټويټ کې منلي چې د ښوونځيو په اړه د طالبانو دې پرېکړې په ټولنيزو رسنيو کې سخت ننګولی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هغه په طنزيه انداز په دې اړه ليکلي:«يو وخت به ما خلک تر باغو اړول. اوس له سهار راهيسي په خپله د باغ په ديوال ناست يم.»

د طالبانو د بهرنيو چارو وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ رييس خيرالله شينواري بيا په کنايوي انداز ليکلي:«تاسي را واچوئ لړ د غم ټپې»

د طالبانو يوه بل مشهور مطبوعاتي مبلغ او د کابل د امنيه قومندانۍ مخکيني وياند مبين په طنزيه انداز د خپلو مشرانو وروستۍ پريکړه داسي نقد کړې ده:«تر شپږم ټولګي وروسته دې بيا دوهم ځلي تر شپږم ټولګي ووايي نو دولسم پاس به شي. موږ را پورته کيګو»

د کابل پوهنتون استاد او مشهور طالب پلوه مبلغ فيض محمد ځلاند خبرداری ورکړی چې که طالبانو دا ځل سياست بايلود، د ده په وينا وطن، دين، ولس، عزت او تاريخ به هم وبايلي.
نوموړي له طالبانو غوښتي چې د خواشيني کيدو پر ځای لاس په کار شي او له پېښو سره عاقلانه چلند وکړي.

د طالبانو يو بل تبليغاتي مبلغ وحيد فقيري بيا ليکلي: «د شپږم صنف پورته د نجونو د مکتبونو نه پرانيستل يوه کرغېړنه فيصله ده. داسي ښکاري چې يوې مخصوصي افراطي ډلي سبوتاژ ته مخه کړې ده. د اسلامي امارت د مشرۍ څخه زموږ مطالبه دا ده چې خپلې ژمنې عملي کړي. د مظلومو ماشومانو حق تلف نه کړي. پر تعليم چنې وهل ځرګند شرم دی».

د افغانستان د تعليمي نظام خلاف د طالبانو د اقداماتو او تبليغاتو په لړ کې نن د طالبانو د رييس الوزرا استازي او د چارو اداري مرستيال مولوي نورالحق، وويل:« د مخکېني حکومت تعليمي نصاب بهرنيانو جوړ کړی و او هغه کارپوهانو په دغه کار کې ونډه لرله چې د امريکا ګټو ته ژمن کسان وو، نه د افغانستان نسلونو ته.»

د طالبانو پوهني وزارت نن په هېواد کې له شپږم ټولګي څخه د نجونو د پورته ښوونځيو د پرانيستلو ژمنه نقض او ويې ويل چې د دغو ښوونځيو درسونه تر امر ثاني پورې وځنډول شول.

د طالبانو په اړونده اعلاميه کې راغلي:«هر کله چې په دې اړه له شريعت او افغاني دود او کلتور سره سمه جامع طرحه جوړه او داسلامي امارت د مشرتابه حکم وشي بيا به مکاتبو او ليسو ته رسما خبر ورکول شي.»

دا پريکړه په داسي حال کې شوې، چې د ټرلو ښوونځيو د پرانيستلو په اړه د طالبانو ژمنه نن بايد پوره شوې وای.»

په هر ډول چې وي، اوس نجوني ښونځيو ته نه دي پرېښودل شوي او د افغانستان د ميليونونو وګړو زړونه د دې پرېکړې په تيغ غوڅ شوي دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ